# څنګه کولی شئ د ایډیاز سازمان څخه وړیا حقوقي مرسته ترلاسه کړئ؟

آیا تاسو د سربیا په اړه د پناه غوښتنې او خپلو حقونو په اړه پوښتنې لرئ؟

تاسو کولی شئ د ایډیاز سازمان سره اړیکه ونیسئ:

- د ټلیفون، واټس اپ، فېسبوک پاڼه یا ایمیل له لارې.
- په مرکزونو کې وکیلانو ته مراجعه وکړئ
- د کیرس کارکوونکو، د غیر دولتي سازمانونو کارکوونکو یا یو این ایچ سي آر ته ووایاست چې تاسو قانوني مرسته غواړئ.

د ایډیاز سازمان وکیلان به د پناه غوښتنې پروسې ټول ګامونه، ستاسو حقوق او مسئولیتونه تشریح کړي. دوی کولی شي تاسو سره د پروسې په هره مرحله کې مرسته وکړي.

ستاسو د وکیل سره خبرې محرمې دي.

د ایډیاز سازمان د یو این ایچ سي آر د شریک په توګه قانوني مرسته وړاندې کوي.

قانوني مرسته بشپړه وړیا ده!

د اړیکو معلومات:

+381 69 565 72 54

@IDEASLegalAid

ایمیل: legalaid@ideje.rs

ایا تاسو په سربیا کې د پناه غوښتنې په اړه نور معلومات غواړئ؟ د یو این ایچ سي آر چیټ بوټ په واټس اپ کې وګورئ: ۳۸۱۶۳۴۳۲۷۷۶+

## ۶. تاسو د ۱۵ ورځو په ترڅ کې د استیناف حق لرئ

که تاسو منفي پریکړه ترلاسه کړئ، یا که تاسو غوښتل چې د پناهندګۍ په توګه پیژندل شئ خو یوازې ضمني ساتنې وضعیت درکړل شو، نو تاسو د استیناف حق لرئ.تاسو د پریکړې له ترلاسه کولو نیټې څخه په ۱۵ ورځو کې د استیناف غوښتنه کولای شئ.

- د استیناف په پروسه کې:
  - ستاسو د پناه غوښتونکي کارت تجدید شي.
  - تاسو کولی شئ په سربیا کې په امن پاتې شئ.
  - تاسو د پناه غوښتونکي په توګه خپلې حقوقو ته دوام ورکوئ، لکه کار کول یا ښوونځي ته تلل.

د خپل استیناف د مرستې ترلاسه کولو لپاره، فوراً د ایډیاز سازمان وکیلانو سره اړیکه ونیسئ. که تاسو مخکې وکیل نه درلود، دا وکیلان اوس هم کولی شي ستاسو سره مرسته وکړي.



# ۵. تاسو به د خپل غوښتنلیک سپارلو وروسته په ۱۲ میاشتو کې پریکړه ترلاسه کړئ

د پناه غوښتنې دفتر به ستاسو په غوښتنلیک پریکړه وکړي. د قانون له مخې،

دا باید  د خپل غوښتنلیک د سپارلو نیټې څخه په ۱۲ میاشتو دننه ترسره شي. ځینې وختونه دا اوږده وخت نیسي، مګر اندیښنه مه کوئ—تاسو به تر هغه پورې د پناه غوښتونکي ټول حقوق ولرئ تر څو چې وروستۍ پریکړه ونه شي.

که ستاسو غوښتنه ومنل شي، تاسو به لاندې وضعیتونو څخه یو ترلاسه کړئ:

- د پناهندګۍ وضعیت، چې تاسو ته د ۵ کلونو لپاره په سربیا کې پاتې کیدو اجازه درکوي او تمدید کیدی شي.
- د ضمني ساتنې وضعیت، چې تاسو ته د ۱ کال لپاره په سربیا کې پاتې کیدو اجازه درکوي او تمدید کیدی شي.



# ۴. په څو میاشتو کې به ستاسو مرکه وشي

څو میاشتې وروسته له دې چې تاسو خپل غوښتنلیک وسپارئ، د پناه دفتر به تاسو ته د مرکې لپاره بلنه درکړي. په دې مرکه کې به تاسو څخه وغوښتل شي چې په تفصیل سره تشریح کړئ چې ولې مو خپل اصلي هیواد پرېښود او ولې تاسو نشئ کولی بیرته ورشئ.

یادونه: ستاسو مرکه محرم ده.

د مرکې لپاره چمتو شئ:

- که تاسو وکیل لرئ، هغه به تاسو ته د مرکې نېټه خبر کړي او یوه ناستې مهالویش به تنظیم کړي ترڅو تاسو سره په تیاري کې مرسته وکړي. ستاسو وکیل به تاسو ته څرګنده کړي چې کوم ډول پوښتنې تمه کولای شئ او هغه نور به تاسو ته د خپل کیسې هغو برخو ته لارښوونه وکړي چې ستاسو د پناه غوښتنې ادعا لپاره ځانګړې مهمې دي.
- که تاسو تراوسه وکیل نلرئ، تاسو بیا هم کولی شئ د ایډیاز سازمان وکیلانو څخه مرسته وغواړئ ترڅو د خپلې مرکې لپاره تیاری ونیسئ.

د مرکې پر مهال:

- یو مترجم به حاضر وي چې په هغه ژبه کې چې تاسو پوهیږئ، تاسو سره مرسته وکړي.
- د پناه غوښتنې دفتر افسر به له تاسو څخه ستاسو د قضیې په اړه پوښتنې وکړي. آرام اوسئ او مستقیم او صادقانه ځواب ورکړئ.
- ستاسو وکیل به هم هلته حاضر وي ترڅو د پروسې په اوږدو کې ستاسو ملاتړ وکړي.




خبرتیا: دا ډیره مهمه ده چې تاسو د پناه غوښتنې دفتر چارواکو سره د خپلې مرکې نیټه او وخت په یاد ولرئ او دا ناسته مه هېروئ.
که تاسو دا له لاسه ورکړئ، نو تاسو کولی شئ خپل د پناه غوښتنې حق له لاسه ورکړئ.

## ۳. په ۲۳ ورځو کې د پناه غوښتنه وسپارئ

تاسو اعظمي ۲۳ ورځې لرئ چې خپل د پناه غوښتنې غوښتنلیک د پناه دفتر ته وسپارئ، کوم چې د پناه غوښتنې دوسیو په اړه پریکړه کوي.

- په لومړیو ۱۵ ورځو کې د پناه دفتر افسرانو ته انتظار وکړئ چې مرکز ته راشي او بیا خپل غوښتنلیک وسپارئ
- که افسران په ۱۵ ورځو کې ونه راشي، تاسو نور ۸ ورځې وخت لرئ چې خپله غوښتنلیک وسپارئ.
- د پناه غوښتنلیک د سپارلو پر مهال د وکیل مرسته ترلاسه کول توصیه کېږي.
- کله چې مرکز ته ورسیږئ د ایډیاز سازمان یا د یو این ایچ سي آر وکیلانو سره اړیکه ونیسئ — تر وروستۍ لحظې پورې انتظار مه کوئ.
- وکیلان به تاسو سره مرسته وکړي چې ستاسو قضیه په سمه توګه چمتو کړي.

تاسو هم کولی شئ د کیرس کارکوونکو څخه د غوښتنلیک فورم غوښتنه وکړئ که غواړئ دا پخپله ډک کړئ. فورمونه په مختلفو ژبو کې شتون لري.

**ستاسو د پناه غوښتنې د سپارلو وروسته، تاسو ته به د پناه غوښتونکي حقوق درکړل شي!**

تاسو به د پناه غوښتونکو د هویت کارت ترلاسه کړئ. دا مهمه ده چې تاسو دا کارت هر وخت له ځان سره ولرئ، په ځانګړې توګه کله چې تاسو د پناه مرکز څخه بهر یاست.




**خبرتیا:**

- **د پروسې په جریان کې له خپل وکیل سره اړیکه وساتئ.**
- **که تاسو غواړئ خپل د اوسیدو ځای بدل کړئ، خپل وکیل ته خبر ورکړئ، او هغه به تاسو سره مرسته وکړي چې اړونده ادارو ته د دې بدلون په اړه خبر ورکړئ.**
- **که تاسو خپل د اوسیدو ځای د اړونده ادارو ته د خبر ورکولو پرته بدل کړئ، نو تاسو کولی شئ خپل د پناه غوښتنې حق له لاسه ورکړئ.**
- **د پروسې په جریان کې سربیا پرې مه ږدئ، که نه نو تاسو کولی شئ په سربیا کې د پناه غوښتنې حق له لاسه ورکړئ.**

# ۲.

## د ټاکل شوي پناه غوښتنې مرکز ته د ۷۲ ساعتونو په ترڅ کې لاړ شئ

له پولیسو سره د راجستریشن وروسته، تاسو باید هغه پناه غوښتنې مرکز ته لاړ شئ چې تاسو ته ټاکل شوی دی. که تاسو ډاډه نه یاست چې چیرته باید لاړ شئ، تاسو کولی شئ خپل د راجستریشن تصدیق نامه وګورئ—په هغه کې به لیکل شوي وي چې کوم مرکز ته تاسو ټاکل شوی یاست.


- تاسو باید د راجستریشن وروسته د ۷۲ ساعتونو (۳ ورځو) په ترڅ کې مرکز ته ورسیږئ
- خپل ټول شیان له ځان سره راوړي، تاسو به په هغه  مرکز کې لږ تر لږه ۱۵ ورځې پاتې شيء
- خپل د راجستریشن تصدیق نامه راوړئ، تاسو به اړتیا ولرئ چې کله ورسیږئ، هغه ښکاره کړئ
- د مرکز قواعد احترام کړئ او په مرکز کې پاتې شئ.

یادونه: دغه مرکزونه د ﺈس سي ار ام (SCRM) کارکوونکو لخوا اداره کیږي (په سربیا کې ورته کیرس ویل کیږي) چې تاسو به له د کور قواعدو سره آشنا کړي.
که تاسو د کوم قاعدې د تعقیبولو کې ستونزه لرئ یا نه پوهیږئ، د مرکز کارکوونکو یا د ایډیاز سازمان وکیل سره خبرې وکړئ.

که تاسو اړتیا لرئ چې مرکز پرېږدئ:

- د وتلو دمخه د مرکز د کارمندانو څخه رسمي اجازه ترلاسه کړئ
- د کارمندانو لخوا په ټاکل شوي وخت کې بیرته راشه
- هیڅکله د رسمي اجازې پرته مرکز مه پرېږدئ.

یادونه: که تاسو ډاډه نه یاست چې څنګه د وتلو اجازه ترلاسه کړئ، د کیرس له کارکوونکو څخه پوښتنه وکړئ یا د ایډیاز وکیلانو سره اړیکه ونیسئ. هغوی به تاسو ته توضیحات درکړي چې څه باید وکړئ.




**خبرتیا:**

- **که تاسو په ۷۲ ساعتونو کې مرکز ته لاړ نشئ، ستاسو د پناه غوښتنې حق له لاسه تللی شي**
- **که تاسو د اجازې پرته مرکز پرېږدئ، ستاسو د مرکز د پاتې کیدو او د پناه غوښتنې حق له لاسه تللی شي.**

۱.

## پولیس افسر ته ووایاست چې تاسو پناه غوښتنه کوئ

لومړی ګام دا دی چې پولیس افسر ته خپله د پناه غوښتنې نیت څرګند کړئ. په ساده ژبه پولیس افسر ته ووایاست چې تاسو د پناه غوښتنې لپاره غوښتنلیک ورکول غواړئ.


د دې مرحلې په جریان کې، چې نوم لیکنه (راجستریشن) بلل کیږي او په پولیسو سټیشن کې ترسره کیږي، پولیس افسر به:

- ستاسو انځور او ګوتې نښې واخلي
- ستاسو شخصي معلومات غوښتنه کړي او ستاسو پېژند پاڼه وکتل شي.

که تاسو کوم شخصي اسناد نه لرئ، اندېښنه مه کوئ، تاسو بیا هم راجستر کیدلی شئ.

تاسو به د راجستریشن تصدیق نامه ترلاسه کړئ. دغه سند د دې ثبوت دی چې تاسو پناه غوښتنه کول غواړئ او تاسو ته د پناه غوښتنې مرکزونو کې د پاتې کیدو اجازه درکوي. دا خوندي وساتئ او مه یې له لاسه ورکوی.

یادونه: که څه هم تاسو خپله نیت د پناه غوښتنې څرګند کړی، خو تاسو تر اوسه په رسمي توګه د پناه غوښتنې پروسه کې نه یاست. تاسو باید د پناه غوښتنې غوښتنلیک فارم ډک کړئ او وړاندې کړئ ترڅو د پناه غوښتونکو حقوق وکاروئ.



یادونه: که تاسو د ۱۸ کالو نه کم عمر لرئ او په سربیا کې یوازې یاست،
و سمدلاسه یې د دولتي ادارو ته راپور ورکړئ—تاسو د پناه غوښتنې پروسې
او خپلو حقوقو په کارولو کې د اضافي ملاتړ حق لرئ.

# د پناه غوښتنې پروسه څنګه پیل کړئ؟

## څنګه پناه غوښتنه کولای شئ؟

**دا هغه مهم ګامونه او نېټې دي چې تاسو باید تعقیب کړئ**

**۱.** **پیل**
نوم لیکنه

**۲.** **د ۷۲ ساعتونو په ترڅ کې**
ټاکل شوي مرکز ته رسیدل

**۳.** **د ۲۳ ورځو په ترڅ کې**
د پناه غوښتنې غوښتنلیک وړاندې کول

**۴.** **څو میاشتې وروسته**
د پناه غوښتنې مرکه

**۵.** **د ۱۲ میاشتو تر ټولو وروسته**
پریکړه

**۶.** **۱۵ ورځې**
استیناف

# که زه د پناه غوښتنه وکړم نو څه به ترلاسه کړم؟

که تاسو په سربیا کې د پناه غوښتنه وکړئ، تاسو به وکولی شئ لاندې ترلاسه کړئ:

- خوندي او قانوني اوسیدنه
- د پېژندنې اسناد
- د پناه غوښتنې پروسې په جریان کې وړیا استوګنه او خواړه
- د ایډیاز سازمان لخوا وړیا حقوقي مرسته، چې د یو این ایچ سي آر شریک سازمان دی
- د عامه روغتیا وړیا لاسرسی
- د ماشومانو د عامه ښوونځیو وړیا داخله او نورو تعلیمي فرصتونو
- د پناه غوښتنې غوښتنلیک وړاندې کولو وروسته د شپږو میاشتو لپاره د قانوني کار کولو امکان
- د سربی ژبې وړیا ټولګیو او نورو خدماتو ته د لاسرسي ملاتړ



یادونه: که تاسو غواړئ چې په خپل ژبه له چا سره خبرې وکړئ یا که تاسو نه پوهیږئ
چې څوک مرسته درکولی شي، نو تاسو کولی شئ
د سي ار پي سي (CRPC) سازمان سره اړیکه ونیسئ: ۳۸۱۶۰۰۹۹۱۶۳۴+

# په سربيا کې پناه غوښتنه

PA

- ايا تاسو له خپل هېواد ته د بيرته ستنيدو ويره لرئ؟
- ايا تاسو له جګړې يا تاوتريخوالي څخه تښتيدلي ياست؟
- ايا تاسو د دې لپاره ګواښ احساسوئ چې څوک ياست؟ ايا تاسو د ښځې، ماشوم، د ايل جي ټي کيو آی (LGBTQIA+) شخص، سياسي فعال يا د کومې بلې وجې له امله ګواښ احساسوئ؟
- ايا تاسو د خپل ځان يا خپلې کورنۍ د ساتنې لپاره خپل هېواد پرېښی دی؟



## په سربيا کې پناه غوښتنه وکړئ!

ايا تاسو د پناه غوښتنې په پروسه کې مرسته ته اړتيا لرئ؟

د ايډياز (IDEAS) سازمان له وکيل سره خبرې وکړئ، دا وړيا ده. IDEAS د يو اين ايچ سي آر (UNHCR) شريک سازمان دی.

UNHCR
The UN Refugee Agency

ideas

+381 69 565 72 54

QR کوډ سکين کړئ
د حقوقي مرستو لپاره